مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۱۱/۱۶

د پوره نسل د شعور راویښولو اعلان

د جهالت تورو تیارو د تښتولو اعلان
د بدمرغۍ له توري کندې د وتلو اعلان

د پوره نسل د شعور راویښولو اعلان
د غلامۍ د زنځیرونو ماتولو اعلان

د قلم نوکه د توپک له شپېلۍ ښه وسله ده
دا دی د قام د آزادۍ حاصلولو اعلان

لکه د کفر محله کې چې اذان وشي
دومره خوږ لګي د مکتب د خلاصېدلو اعلان

دا به ښکاره شي په صراط د تېرېدلو زېړی
خدای دې ربښتیا کړي ددې ور د پرانیستلو اعلان

ټول د قرآن تلاوت کړي سر یې پرې نه خلاصېږي
باوره دا دی په معنا د پوهېدلو اعلان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ